


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب ::په منځني ختيځ کي پېښې - ستر نړيوال ناورين

ليکوال ::روښان ولسمل

يادونه : دغه ليکنه مي خپل د کمپيوټر په کتابونو کي پرته وه نه پوهيږمه چي چا اوځنگه زما کمپيوټر ته رارسولې وه د ارزښت لمخې مي پرليکه کړه نور يې معلومات نه وه راسره ( خالد هادي )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په منځني ختيځ کي پېښ، ستر نړيوال ناورين

هر وخت چي زه او د متحدو اېالاتو ولس مشر روزولت يو له بل سره پر مقابل مقابل مېز کښينو، داسي کار وجود نلري چي حل يې نه کړو، يهودېان بايد خپله اصلي مېنه ولري.

وينستن چرچل

د برتانيې لومړی وزير

د منځني ختيځ پراخه تاريخي او کلتوري سيمه د اسيا د لويي وچي په سهيل لويديځ او د افريقا د لويي وچي په شمال ختيځ کي پرته ده.

د نړی په اوسنۍ نقشه کي په منځني ختيځ کي شامل هيوادونه له بحرين، ايران، عراق، فلسطين، اسرائيلو، اردون، کويټ، لبنان، عمان، قطر، سعودي عرب، سوريه، ترکيه، متحده عرب امارات، او يمن څخه عبارت دي. يو افريقايي اسلامي هيواد مصر هم د خپل جيو پوليټيك اهميت له امله په منځني ختيځ کي نومول کيږي.

د منځني ختيځ سيمه چي د ځمکي پيژندني له نظره وچه او ګرمه سيمه ده ، تقريبا د نړۍ په سلو کي پنځه شپيته د تيلو زيرمي لري، چي د فارس سمندرګی يې هم ګاونډئ دی.

تيل د منځني ختيځ اصلي صادرونکی څيز دی، چي له امله يې د منځني ختيځ ټول وګړي نسبتا ښه او سوکاله ژوند لري، په منځني ختيځ کي شامل هيوادونه له اقتصادي پلوه په مختلفو کټګوريو کي راځي، ځيني يې د ښه اقتصاد لرونکي او ځيني نور يې له هغې جملې څخه يمن، په سترغربت او بدمرغۍ کي شپې ورځي سبا کوي.

د منځني ختيځ سيمه د تاريخ په اوږدو کي د دوام داري او البته خونړۍ جګړې شاهده ده، دا جګړې تر ډېره حده د فلسطين پر سر د عربو او اسرائيلو تر منځ، د فارسېانو او عربو تر منځ او پخپله د فلسطينيانو او اسرائيلو تر منځ پېښي سويدي.

نوموړي جګړې چي تر اوسه يې لا هم پای نه دی موندلی، اصلي موضوع يې د فلسطين د يوه خپلواک دولت د رسميت پېژندلو موضوع ده چي تاريخ به ئې په تفصيلي ډول په همدې بحث کي څېړو:

ځمکه چي اصلا د فلسطين او اسرائيلو تر منځ پر شخړه ده، کوچنۍ ده او ټول مساحت يې 10000 ml2 لس زره ميله مربع دی، او د مديترانې سمندر په ختيځ پای کي پرته ده.

پر همدې ځمکه د تاريخ په مختلفو پړاوو کي مختلفي واکمنۍ تر سره سويدي، د اسرائيلو اوسنی ځوان دولت چي له زېږېدني ئې يوازي شپږ پنځوس ( ٥٦) کلونه کيږي، ادعا کوي چي له اردون سمندر څخه تر مديترانې پوري،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمال لوري ته تر لبنانه پوري، ختيځ لوري ته تر اردونه پوري او په سهيل کي تر مصره پوري اسرائيلي ملکيت دپاو هم يې په رسمي ډول نومو‌ړې سيمه لاندي کړېده.

د اسرائيلي دولت د پېژندل سوو پولو له مخي د همدې ځمکي 78% اته اويا په سلو کي اسرائيلي سيمه ده، هغه پاته 22% دوه ويشت په سلو کي بيا هم پر دوو برخو وېشل کيږي، چي يوه برخه يې د اسرائيلو تر سلطې لاندي ده چي په 1967 م ميلادي کال کي يې په يوه شپږ ورځنۍ جگړه کي لاندي کړې ده او نوره يې د فلسطينيانو تر کنترول لاندي ده.

د غزې تراډه چي د منځني ختيځ په حاصل خيزو او ستراتيژيکو سيمو کي شمېرپ کيږي، 141 ml2 ميله مربع ده او د اسرائيلو د اوسني دولت و سهيل لوري ته د سمندر پر غاړه پرته او اباده سيمه ده، پر غزه تراډه تر ډېره ځايه فلسطينيان واکمني لري، او ځيني سيمي يې د اسرائيلي دولت لخوا کنټروليږي.

په منځني ختيځ کي مېشت لومړنی مدنيت د نېل سمندرگي، Tigres, اوEurphrates په سيمو کي مېشت سوي وو، د زمان په تېرېدو سره د منځني ختيځ مېشتنه د دريو مذهبونو پيروان وو، لومړی جودايزم چي له ميلاد څخه دېارلس پېړۍ مخکي د سيمي خلکو ددين په توگه منلی وو، له اولي تر څلورمي پېړۍ عيسويت او له اوومي پېړۍ راوروسته د اسلام سپېڅلي دين.

تاريخ پاڼو ته په کتنه فلسطينيان له سلگونو زرو کلونو را پدېخوا پر همدې ځمکه پراته دي.

د ځمکي پېژندونکو يا جيولوجيستانو د څېړني له مخي چي په همدې سيمه کي يې د لرغونو حيواناتو فوسيلونه او نباتي بقاياوي پيداکړي دي وايي چي د منځني ختيځ دا سيمه د لرغونو مدنيتونو يوه ستره زراعتي سيمه وه.

لرغون پوهان وايي چي د ميلاد له مخه له 2000 څخه تر 1500 پوري Amorites ) ، (Canaanites )او (Semitic ) خلك چي په (Phoenicians ) قبيلې پوري اړه درلوده، منځني ختيځ ته راغلي دي، چي دا سيمه وروسته د Canaanپنامه و نومول سوه.

په (Canaan ) سيمه کي د تاريخ په اوږدو کي (Hittites ) , (Semic ) او په راوروسته کي (Philisines ) اوسېدلي دي.

د ځينو رواياتو پر اساس د (Joshua ) تر مشري لاندي اسرائيلو د (Canaan ) سيمه لاندي کړه، او پيغمبر حضرت داود (ع) تر ميلاد زره کاله له مخه بيت المقدس يا (Jerusalem ) فتحه کړ، او هلته يې يوه شاهنشاهي تاسيس کړه، دا شاهنشاهي نه يوازې پر Canaan مسلطه وه، بلکي پر Transjordan يا اوسني اردون يې هم واکمني درلوده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهنشاهي د زمان په تېرېدو سره په دوو برخو ووېشله سوه، په سهيل کي په Judea او په شمال کي اسرائيل، د حضرت داود ( ع) د زوی سليمان ( ع) تر مرگ وروسته بيت المقدس د يهودانو پلازمېنه سوه، او اسرائيلو په همدې ځای کي خپل عبادت ځايونه پرانيستل،او تر 133 ميلادي سنې پوري يې پر همدې سيمه واکمني درلوده.

(Babylonians)يا بابيلونيانو د (Judah) ښار تقريبا په 586 قبل الميلاد کي لاندي کړ. په پلازمېنه بيت المقدس کي يې د داود عليه السلام د زوی حضرت سلېمان عليه السلام معبد راونړاوه، او هم يې ډېر يهود له خپلو کورونو څخه و شړل..

تقريبا پنځوس کاله وروسته د فارسيانو پاچا (Cyrus ) بابيلولنيا و نيول، او بيرته يې يهودو ته بلنه ورکړه چي خپل کورونه جوړ کړي، يهودو هم له همدې بلني څخه گټه پورته کړه او هلته مېشته سول، دا يهودان تر ډېره وخته هلته پاته سول او بيت المقدس يې اباد کړ.

د يهودي دولت تر تاسيس وروسته يهودانو د هغه مهال د پر واك حکومت سره خپل ښې اړيکي ساتلي، او په بشپړ ډول يې د نوموړی حکومت سبك ټينگاوه.

فارسيانو هم پر دې سيمه له 531 څخه بيا تر 331 قبل الميلاد پوري خپله پوره واکمني و چلول، تر دې دوه سوه کلني واکمنۍ وروسته لوی الکساندر فارسي امپراتوري ړنگه کړه، او د هغې سيمي د پاچا په توگه يې خپل ځان اعلان کړ.

په 323 قبل الميلاد کي د لوی الکساندر تر مرگ وروسته د هغه جنرالانو دا واکمني پر دوو برخو ووېشله، او يو تن جنرال (Seleucus ) يو امپراتوري يا (dynasty ) تاسيس کړه، چي تر 200 قبل الميلاد پوري يې دا بحراني سيمه رهبري کړه.

د امپراتورۍ د تاسيس په پيل کي دا واکمنو چي (Seleucids ) نومېدله و يهودانو ته دا اجازه ورکوله چي په ازاد ډول خپل عبادت و کړي، خو راوروسته يې بيا د Judaism و مذهب ته د عبادت مخنيوی کاوه.

په 167 قبل الميلاد کي يهودو پاڅون وکړ او پر فلسطين باندي يې ددې واکمنانو امپراتوري پای ته ورسوله. دوی دا پاڅون د مکابين (Maccabean ) تر مشرۍ لاندي پيل کړ، او د خپلي سلطې واك يې پراخ کړ، د خپلي سيمي پلازمېنه يې بيت المقدس يا (Jerusalem ) اعلان کړ.

پر بيت المقدس باندي پراته دې سلطنت چي په راس کي يې (Maccabean ) واقع وو د رومي امپراتورۍ ملاتړ او مرسته تر لاسه کړه، او تر ( 164) قبل الميلاد پوري د رومي امپراتورۍ ملگرى پاته سو.

## فلسطين له رومي امپراتورۍ څخه تر عثماني امپراتورۍ پوري:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له میلاد څخه تقریبا 61 کاله مخکي رومي سرتېرو د (Pompei ) تر مشرۍ لاندي (Judah ) و نیول، او بیت المقدس یې ویران کړ، (Judah )او بیت المقدس تر یوې زیاتي مودې پوري د رومي ځواکونو تر کنترول لاندي وو.

د رومي ځواکونو د واکمنۍ پر مهال یهودو ځیني پاڅونونه و کړل چي د رومي ځواکونو له خوا ماته ورکول سوه، د یهودو لخوا دوه ستر پاڅونونه په 131 میلادي کال او دوهم یې په ( 70) اوېایم میلادي کال کي سوي دي، چي د هغه مهال رومي واکمنو یې پر ضد سخته او خونړۍ جګړه کړې او دا پاڅونونه یې ځپلي دي.

تر دې پاڅونونو وروسته په ( 135) میلادي کال کي رومېانو یهود له بیت المقدس څخه و شړل او دا سیمه یې د ( Palastina)په نامه و نومول.

د (Palastina ) کلمه چي په انګلیسي ژبه کي ورته (Palestine ) وایي د (Herodotus ) یا هیرودتس څخه اخیستل سوېده، هیرودتس دا اصطلاح د (Palestin Syria ) پنامه نوموليې ده چي اصلا د سوریې سهیلي برخه ده.

رومېانو پر فلسطین باندي خپل پوره کنترول درلود، او دا کنترول یې تر څلورمي پېړۍ ( 300) مو کلونو پوري راورسېد، او تر دوی وروسته بیا د فلسطین سیمه د (Byzantine ) یا بیزانس امپراتورۍ تر واکمنۍ لاندي راغله.

په څلورمه پېړۍ کي عیسویت پر خپرېدو وو، د رومېانو ځیني کورنۍ چي په همدې موده کي د فلسطین و سیمي ته راتلې، د منځني ختیځ سیمي ته د عیسویت دین راوړ ، او زیاتو یهودو دې دین ته مخه و کړه.

د اوومي پېړۍ په بهیر کي په ( 600) مو میلادي کلونو کي مسلمانو ځواکونو د سعودي عربستان څخه د شمال پر لوري خپل تحریك پیل کړی وو، تر څو منځنی ختیځ لاندي کړي، او پدې سیمو کي د اسلام سپېڅلی دین خپور کړي. په دې ډول بیت المقدس په ( 638) میلادي کال کي د اسلام د دوهم خلیفه حضرت عمر ( رض) تر فتحي لاندي راغی.

مسلمانانو دا سیمه تر ( 1900) مو کلونو پوري کنترول او و ساتله. د مسلمانانو د واکمنۍ پر مهال مسلمانو چاروا کو و عیسویانو او یهودانو ته اجازه ورکړه چي خپلو دینونو ته عبادت و کړي.

پداسي حال کي چي په سیمه کي مېشتو وګړو تر زیاته حده د اسلام سپېڅلی دین منلی وو او عرب کلتور هلته پوره وده کړې وه، بیت المقدس د مسلمانانو د یوه سپېڅلي ښار په توګه خپل برم درلود، ځکه چي د اسلام پیغمبر او د لوی څښتن د استازی حضرت محمد (ص) براق له مدینې منورې څخه همدې ښار البته د اقصی مسجد ته راغی او له همدې ځایه د لوی څښتن استازی و معراج ته تللی دی.

سبحان الذي اسری بعبده لیلا من المسجد الحرام الي المسجد الاقصی. الذي برکنا حوله لنریه من ایاتنا انه سمیع بصیر. (الایه)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: سپېڅلي دی هغه ذات چي تګ يې و کړ په خپل بنده سره ( چي مراد ترې محمد (ص) دی) له مسجد حرامه څخه و مسجد اقصی ته ، چي په شاوخوا کي يې موږ برکت ایښی دی، ددې لپاره چي ووينو موږ په ده باندي نښې زموږ له نښو څخه. بېشکه څښتن ( ج) ښه اورېدونکی او ښه لیدونکی دی.

بيت المقدس تر پايه د عرب واکمنو په لاس کي پاته نه وو، بلکي په ( 1071) کي ترکي سلجوقېانو د بيت المقدس کنترول واخيست او دې ښار ته ئې خپل پوځونه ولېږل، خو د ترکي سلجوقېانو دې واکمنۍ هم زيات وخت و نه نيو، بلکي تر ( 30) کلونو لږ ئې واکداري وکړه.

اروپايانو هم په بيت المقدس کي د سلجوقي حکومت واك نه مانه او له هغوی سره ئې تل مبارزه کوله، د سلجوقي ترکيانو او اروپائي عيسويانو د مبارزې په بهير کي د مصر (Fatimids ) يا قاطمېان چي اصلا د شيعه مذهب لاروۍ ډله وه، خپله اعظمي ګټه پورته کړه، دوی د اروپائي عيسويانو سره چي (Crusaders ) نومېدله، ائتلاف و کړ او بيت المقدس ئې و نيو، دوی د بيت المقدس پر نيولو بسنه و نه کړه، بلکي(Juffa ) او د فلسطين ځيني نوري برخي يې هم په ( 1098) کي و نيولې.

د تاريخ په شهادت ائتلاف تر پايه نه دی رسېدلی او په يو ډول د ډولونو يې ګذار پر سر خوړلی دی، دې ائتلاف هم چي يو نا مشروع ائتلاف وو داسي يو ګذار و خوړ، عيسوي اروپايانو ائتلاف مات کړ او د فلسطين ډيري برخي له هغي جملې څخه يې (Jaffa ) او بيت المقدس په ( 1099) کي و نياوه.

د بيت المقدس دې لاندي کوني د مسلمانانو او اروپائي عيسويانو چي هغه (Crusaders ) نوميږي تر منځ د اخ و ډب فضا لا ګرمه کړه، او نور هيڅ يوه لور ته اجازه نه وه چي په بيت المقدس کي شپې ورځې تيري کړي. خو له هر راز تاوتريخوالي سره سره اروپائي عيسويانو د بيت المقدس د سپېڅلي ښار کنترول تر ( 1187) ميلادې کال پوري په لاس کي درلود.

اروپائي عيسويانو د يوه مسلمان اتل صلاح الدين سره په جګړه کي ماتي و خوړه، د بيت المقدس نه و شړل سوه او د فلسطين پر سمندرغاړه يوه سيمه Acre ) )کي پاته سول. صلاح الدين واکمن د اروپائي عيسوېانو سره پر همدې سيمه د پاتي کېدو تړون و کړ، خو اروپائې عيسوېان همدې تړون ته ژمن پاتي نه سول، پر بيت المقدس يې د نيولو په نيت څو ځله ناکام بريدونه و کړل، خو مسلمانو ځواکونو به تل ماتي ورکوله، مسلمانانو بالاخره دوی له (Acre ) څخه هم په ( 1291) کي و شړل.

د اروپائي عيسويانو بريدونو لا پای و نه موند، ددې لپاره چي مسلمانانو ددوی ددې بريدونو څخه ځان ژغورلی وي، نو يې د هغې سيمي مسلمانان ورو ورو ددې سيمي را و ايستل. او دا سمندر غاړه د کلونو کلونو لپاره همداسي تشه او شاړه پاته سول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ( 1200) مو کلونو په منځ کي (Mamelukes ) ماملوکان چي اصلا په مصر کي مېشت يو لوی پوځي ځواك وو، يوه امپراتوري تاسيس کړه، چي د فلسطين زياتي برخي يې هم په خپل غيږ کي را ونيولي.

د فلسطين د نفوسو زياته برخه په هغه مهال کي عربي ويونکو مسلمانانو تشکيلوله. د ( 1300) مو کلونو په پيل کي د مديتراني د شاوخوا سيمو او هسپانيې څخه يو څه يهود، بيت المقدس او د هغه شاوخوا سيمو ته راولېږل سول.

عثماني امپراتوري چي د ماملوکېانو سره په جګړه بوخته وه، دا جګړه و ګټله، ماملوکېانو ته ئې په ( 1517) کي ماتي ورکړه او په دې توګه فلسطين د عثماني امپراتورۍ يوه مستعمره و ګرځېده.

په ترکيه کي پر واك سلطان هغو يهودو ته چي له هسپانيې څخه راتښتېدل بلنه ورکړه څو په ترکي امپراتورۍ او د فلسطين په زياتو برخو کي مېشت سي.

د فرانسې پاچا ناپليون بناپارت، په ( 1798) ميلادي کال کي منځني ختيځ ته داخل سو، د مصري او عثماني واکمنو سره د ناپليون د جګړې پر وخت د فلسطينيانو نفوس کم سو، او زياتو فلسطينيانو خپلي سيمي پرېښودې، چي د وخت په تېرېدو يې دا حاصل ورکونکې ځمکي عربو او يهودو و نيولې.

د عثماني امپراتورۍ پر ضد د فلسطيني عربو پاڅون او ياغيتوب ښائي په لويه کچه د فلسطينيانو د خپرېدو لامل ګرځېدلی وي.

دوی وو چي د يهودو او صهيونيستانو مېشتېدني ته يې اجازه ورکول، په همدې ترتيب د عربو او يهودو نفوس په منځني ختيځ کي وده کول،ان تر دې چي په ( 1880) عيسوي کال کي ( 24000) څلور ويشت زرو تنو عربو په فلسطين کي ژوند کاوه. په داسي حال کي چي پوره شمېر يې ( 400000)څلور سوه زرو تنو ته رسېدی، په همدې مهال کي عثماني دولت پر يهودو مهاجرو ځيني بنديزونه اعلان کړه، چي دوی ته ئې اجازه نه ورکوله چي په فلسطيني سيمو کي ځمکه رانيسي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صهيونيت رامنځ ته کېدل The Rise of Zionism

په نولسمه ميلادي پېړۍ کي په اروپا کي د يهودو ازادي منل سوې وه او يهودو په تدريجي ډول مليت پالنه يا نېشنليستي اختياروله، (Rabbi Yehudda Alcaly )لومړنی څوك وو چي د صهيونيستانو لومړنۍ ليکنه يې په ( 1840) مو کلونو کي خپره کړه.

همدې او دې ته ورته ډېرو ليکنو د صهيونيت نظريه په لومړيو کي يو څو اروپائي هيوادونو ته خپره کړه ، چي ورو ورو ئې نږدې ټوله اروپا د صهيونيستي نظريې څخه خبر کړل.

په ختيځه اروپا کي د ( 1800) مو کلونو په پای کي د يهودو تسلط و فلسطين ته د يهودو مهاجرت ته لار پرانيستله.

لومړنی صهيونيستي حرکت په ( 1897) عيسوي کال کي په يوه رسمي ټولنه و منل سو، او دا په (Basle ) کي لومړنی صهيونيستي کانگرس وو چي مشري يې (Theodo Re Herzl ) کوله، داسي ويل کيږي چي د هرزل نيکه د ( Alcalayسره چي لومړنی صهيونيستي ليکوال وو، له اثارو سره اشنايي درلوده، او هرزل هم ددې اثارو تر پوره اغيزي لاندي راغلی وو.

صهيونيستانو هيله او اميد درلود چي د يهودو کورگی يا کور ځمکه په فلسطين کي د جرمني او يا هم ترکي واکمنۍ په ملاتړ جوړه کړي. او هڅه ئې کوله چي په فلسطين کي مېشت عرب به و خپلو عربي هيوادونو ته ستنوي، او په فلسطين کي يې ددوی د قانوني موجوديت څخه سترگي پټولې. او دا يې گڼله چي د فلسطين نفوس به ميليونونو اروپائي يهودو ته رسيږي، چي دا به په سيمه کي يو بشپړ اکثريت وي.

صهيونيستانو لومړی د کروندگرو ټولني په Petahtikva), Zechron Jacob ) او (Rishon Letzion ) کي جوړې کړې، و دې ټولنو ته اروپائي هيوادونو ورځ تر ورځې پراختيا ورکوله.

صهيونيستانو وروسته د جافا و شمال لوري ته د تلابيب يا (Tal Aviv ) په نامه نوی ښار گوټی تاسيس کړ، چي د زمان په تېرېدو يې ستر استراتيژيك اهميت غوره کړ، خو ددوی دا هيله چي په نومو‌ړې سيمه کي به زيات يهوديان پر ځای کيږي او عرب فلسطينيان به و عربي هيوادونو ته ستنوي، حقيقت و نه موند، بلکي عرب نفوس ورځ تر ورځې زياتېدی.

يوې څېړني په هغه مهال کي ښودلې وه چي په ( 1914) عيسوي کال کي د ټول فلسطين نفوس د اووه سوه زره( 700000)په شاوخوا کي وو، چي له هغې جملې څخه يې ( 615000) تنه عرب او د ( 85000) پنځه اتيا زرو تنو په شاوخوا کي يهود وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځنی ختیځ د لومړۍ نړیوالي جګړې تر سیوري لاندي:

د لومړۍ نړیوالي جګړې په بهیر کي د ( 1914- 1918) میلادي پوري عثماني امپراتورۍ د جرمني دولت سره د اتریش او هنګري پر ضد یو ځای سوه.

په هغه مهال کي چي عثماني پوځي حکومت پر فلسطین واکمني درلوده، د یهودو لپاره جګړه ډېره سخته وه، نه یوازي د یهودو لپاره بلکي و عربو ته هم سخته زیانمنه وه، د جګړې سره جوخت کولرا او Typhus ناروغیو دوی سخت و ځپله.

په ترکیه کي حاکم ترکي پوځي امر وکړ چي له خپلي خاوري به ټول بهرني کسان باسي، چي دا مهال نو په ترکیه کي زیاتو روسي یهودو هم ژوند درلود. نو زیات روسي یهود دې ته و هڅول سول څو فلسطین ته مهاجرت و کړي، او هلته مېشت سي.

د منځني ختیځ د شبکې په حواله یو کوچنۍ ډله چي NILI نومېده، و برتانیې ته د فلسطین په اړه د استخباراتي معلوماتو د ورکولو په نیت ټاکل سوی وه، چي نوموړې ډله به تلاښ او هڅه کوي څو پر فلسطین پوځي ترکي واکمني په تدریجي ډول پای ته و رسوي، خو داسي یوه ورځ راورسېده چي ترکي عسکرو د همدې ډلي څو تنه غړي نیولي او په ثبوت یې رسولي وو چي دې ډلي پر فلسطین د برتانوي تیري لپاره زمینه برابروله.

د 1916کال د می په مباشت کي د برتانیې، فرانسې او روسیې تر منځ پټه معاهده لاسلیك سوه، چي تر جګړې وروسته د عثماني امپراتورۍ او هم منځني ختیځ د زیاتو سیمو د وېش په اړه وه.

د همدې معاهدې په لاسلیکولو کي د برتانیې استازی سرمارك سایکس او د فرانسې هغې رژورژپیکو وو، چي تر لاسلیکولو وروسته ئې معاهده د دوی په نومونو یاني سایکس پیکو یا Sykes-Picot Agreement پنامه یاده سوېده .

)چګونه اسرائیل به وجود امد- ۲۸ صفحه(

دې معاهدې غوښتل چي اصلا عرب پخپلو کي جلا او خواره واره کړي، او ځیني سیمي ئې پخپلو کي سره و وېشي، خو په روسیه کي د 1917کال د نومبر انقلاب په راتګ سره روسیې دا معاهده ماته او هغه ئې نشر او خپره کړه .

د پردې تر شا د همدې لاسلیك سوي معاهدې له خپرېدو وروسته څرګنده سو ه چي فرانسې او برتانیې موافقه کړې وه چي د فلسطین زیاته برخه به برتانیه اخلي او یوه برخه به ئې هم فرانسه او ائتلافي ځواکونه په دواړو اخلي، او لبنان او سوریه به و فرانسې ته سپارل کیږي. برتانیې دا وړاندیز هم کړی وو چي تر جګړې وروسته به د عربو غوښتني چي د فلسطین د خپلواکۍ اخیستني په اړه دي نه مني، خو بل لوري ته ئې بیا د عربو سره توافق کړی وو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په خپلواکۍ اخيستلو کي به ورسره بشپړه همکاري کوي. خو پايلي و ښوده چي د برتانيې د هغه مهال ددوه مخي توافق پر اساس مېشت عرب غوليدلي وو.

په ( 1916) ميلادي کال کي د ( T.E Lowerence ) او شريف حسين په ګډه رهبري عربو د عثماني امپراتورۍ پر ضد پاڅون په دې هيله وکړ چي ګواکي برتانيه به په منځني ختيځ کي د عربو خپلواکي و مني، خو برتانيې ورسره لويه جفا و کړه. نه يوازي دا چي د فلسطين خپلواکي ئې و نه منل، بلکي فلسطينېانو ته ئې په همدې لاره کي لوئي توطئې او خندونه واچول.

د برتانيې حکومت غوښتل چي په يو ډول نه په يو ډول المان او ترکيې ته ماتي ورکړي، برتانيې دې دواړو هيوادونو ته دا ماتي ورکول يوازي د مسلمانانو په را پارولو کي ليدل، د همدې کار لپاره ئې د عربو سره ښه سلوك درلود، په روسيه کي د شلو ميليونو تنو مسلمانانو او په هندوستان کي د پنځوس ميليونو مسلمانانو پلوي او د الماني او عثماني امپراتوريو پر ضد ئې را و پاروي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## برتانوی پرېکړه لیك:

### د بالفر اعلامیه:

د (1917) میلادي کال د نومبر په مباشت کي مخکي له دې چي برتانیه د بیت المقدس پر زړه خپلي منګولي ښخي کړي، د بالفر په نامه یې یوه اعلامیه خپره.

د بالفر اعلامیه اصلا د برتانیې د باندنیو چارو د وزیر لارد بالفر یو لیك وو چي په برتانیه کي د صهیونیستانو د ټولني د یوې غوښتني په ځواب کي لیکل سوی وو. او دې اعلامیې په فلسطین کي د یهودانو لپاره د اصلي ټاټوبي په جوړولو کي د برتانیې ملاتړ څرګنداوه. په اعلامیه کي راغلي وو چي برتانیه به بېله دې چي په فلسطین کي د اوسنیو غیر یهودي پرګنو پر حقوقو تېری وسي، د یهودانو لپاره به اصلي ځای غوره کوي.د همدې لیك د متن یوه برخه په لاندي شرحه لیکل سوې وه:

02-Nov-1917

لارد روتشیلد

د انګلستان شاهي حکومت په فلسطین کي د یهودو د موجوده ټولني لپاره د یوه ملي کور د جوړېدو پلوي کوي.

دا یو مسلم حقیقت دی چي برتانیه به په ټولو هیوادونو کي یهودو د مدني او مذهبي حقوقو او هم په فلسطین کي د غیر یهودو د مدني او مذهبي حقوقو د تیري په صورت کي له هر ډول هڅي څخه دریغ و نه کړي. (چگونه اسرائیل به وجود امد- دیرشمه صفحه)

دا اعلامیه د برتانوي صهیونیستي تحریك د غوښتني پر اساس سوې وه، په ځانګړي ډول د (Dr. Haim Weizman ) له خوا چي نوموړی ډاکتر اصلا له روسیې څخه و برتانیې ته پناه وړې وه.او وروسته د اسرائیلو مشر و ټاکل سو. ډاکتر چیم وایزمن،د اسرائیلو لومړنی ولس مشر چي له ۱۹۴۹ څخه تر ۱۹۵۱ ئې ولس مشري و کړه او په همدې دوره کي ئې و نړۍ ته اسرائیل ور و پېژندل.

په حقیقت کي لومړنۍ نړیوالي جګړې منځني ختیځ او پر هغه عملي کېدونکي سیاست ته لوی تغیر ورکړ، تر جګړې وروسته (League of Nations ) عثماني امپراتوري پر برخو ووېشله، او دا وېشنه ئې د زبرځواکو هیوادونو تر منځ د پرېکړه لیك پر اساس تر سره کړه.

فرانسې او برتانیې دا پرېکړه لیك و کاته او هغه یې د خپلو موخو د عملي کېدو لپاره یوه ښه وسیله و ګڼله .

لویو او زبرځواکو هیوادونو د فلسطین په اړه بېلا بېلي هیلي په زړه کي روزلې، د متحدو ایالاتو ولس مشر ویلسن ټینګار کاوه چي پرېکړه لیك دي داسي جوړ سي چي پکښې ولس ته خپلواکي ورکړل سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برتانيې علاقه درلوده او هڅي يې کولې چي فرانسه له فلسطينه ليري پاتي وي او د (League of Nations ) نه يې غوښتنه کوله چي د بالفر د تړون پر اساس فلسطين د هيوادونو تر منځ وويشي، او ټولي چاري دي د بالفر د تړون پر اساس چي متحد ايالات يې ملاتړ کوي پر مخ ولاړي سي.

عرب د (League of Nations ) له صادر سوي تړون څخه ناخوښه او د دوی د موافقې پر خلاف وو، دوی ويل چي هغه سيمه چي دا اوس د فلسطين پنامه يادېږي د عربو ملکيت دی، څنګه امکان لري چي هلته د يهودو کورځای جوړ سي او پر عربو دي واکمني وکړي، او هم ئې دا وېره درلوده چي يو مهال به د يهودو لخوا ددوی ملکيتونه د يهودو تر لاس لاندي کيږي.

عربو د متحدو ايالاتو ولس مشر ته وړانديز کړی وو چي د فلسطين سيمه دي و سورئې ته ورکړل سي، او يو ملي تحريك ئې جوړ کړ چي د همدې تړون پر اساس مبارزه و کړي.

د متحدو ايالاتو ولس مشر ويلسن پخپل نوبت د (King Crane ) پنامه يو پلاوی و فلسطين ته ولېږی څو د خلکو او ښارېانو نظريات له ځانه سره راوړي. همدې پلاوي د د 1919کال د اګست پر اته ويشتمه خپلي څېړني پای ته و رسولې او ولس مشر وېلسن ته ئې لاندي ټکي و لېږل:

د سورئې يووالی دي د هغه هيواد د ډيرو خلکو په غوښتنه پاته وي.

د ملي کور تاسيس دي په فلسطين کي د يهودو د حکومت په نامه نه وي.

د غير يهودو د ټولنو پر مذهبي او ديني حقوقو باندي دي تېری نه کيږي.

د غير يهودو شمېر چي د منځني ختيځ د ۹/۱۰ برخي تشکيلوي د صهيونيت د ټولو پروګرامونو مخالف دی.

)چگونه اسرائيل به وجود امد -

د متحدو اېالاتو ولس مشر ويلسن هم له دې پورته ټکو څخه داسي يوه انګېرنه و کړه:

)د يهودو تاريخ او ددوی تېر مهال ښئي چي امکان نه لري چي دوی له عربو سره يو راز و اوسي،. نه يوازي په فلسطين کي ، بلکي په ټولو هغو ښارو کي چي دوی دواړه مليتونه پکښي ژوند کوي، د فلسطيني عربو سره د جګړې پر مهال دوی يو د بل ويني څښلي دي.(

(David Ben Gurion )چي د (Yishuv ) مشري يې درلوده او د اسرائيلو د يو لوی شخصيت په توګه پېژندل کېدی، د (Yishuv ) ډلي ته په يوه غونډه کي داسي وويل:

)هر څوك اوس هم په دې اند کي دي چي دا مسئله حل نه لري، موږ د يو ملت په توګه غواړو چي دا هيواد زموږ وي، او عرب هم د يوه ملت په توګه همدا راز هيله په زړه کي روزي.(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صهیونیستانو او نورو عرب توکمو خپلي دا قضیې د پاریس د سولي په نامه کنفرانس ته وړاندي کړې. د پاریس د سولي په نامه کنفرانس د برتانیې پلان و مانه، خو اوس اصلي موضوع د فرانسې او برتانیې ددولتونو تر منځ په فلسطین کي د امتیازاتو د وېش پر سر ده، بېله دې چي د مېشتو عربو او یهودو نظر واخیستل سي.

په ( 1920) میلادي کال کي د (San Remo Conference ) د پرېکړې له مخي و برتانیې ته یو اجازه نامه ورکړل سوه چي د اردون سمندر ختیځ او لویدیځ لوری به پراخوي، په حقیقت کي دا ځمکه چي برتانیې پراخوي، تر اصلي فلسطین زیاته وه چي صهیونیستانو ئې فکر کاوه.

برتانویان وه چي د یهودو سره ئې مرسته کول څو خپل اصلي کور ځای اباد کړي، او خپل اداره کونکی سیستم ولري، د همدې ترون عملي کېدل چي برتانیې ته ورکول سوی وای باید د یوې ټولني په مرسته عملي سي، نو برتانیې هم دا اجازه لیك د یهودو د یوې ټولني ته چي وروسته د (Jewish Agency for Palestine ) پنامه يادېده ، و سپارله، تر څو د برتانیې پلانونه په ځانګړي ډول د یهودو راوستل او د عربو شړل له سیمي څخه عملي کړل.

له یهودو سره د برتانوي دولت د مرستو په لړ کي د یهودو ټولنه په فلسطین کي په ( 1929) میلادي کال کي جوړه سوه، او دا ځنډ ئې ځکه وو چي په فلسطین کي دا ټولنه پخپلو کي د رهبري پلاوي پر تشکیل نه جوړېده، برتانیې به دې ټولني ته ګواښنه کوله چي ټولنه دي د دواړو مسلمان او یهودو په ګډه جوړه سي، خو بېا هم دا ټولنه د یهودو په ګټه تمامه سوه.

په ( 1922) م کال کي برتانوي دولت یوه فیصله صادره کړه چي د فلسطین سرحدونه او سیمي به ئې یوازي د سمندر لویدیځ لوری وي، او د سمندر ختیځ لوری (Transjordan ) چي اوس ئې اردون بولي و نومول سو، (Transjordan ) د برتانوي امپراتورۍ یوه بېله سیمه و ګڼل سوه، چي بېا وروسته خپلواکي ورکول سوه.

له فلسطین څخه (Transjordan ) بېلول د یهودو ناخوښي راپورته کړه، او دوی د (Revisionist ) پنامه یو تحریك پیل کړ چي مشري ئې د (Benjamin Zeev Jabotinsky ) په غاړه وه.

برتانیې غوښتل د (Mandate ) سره سم په فلسطین کي یوه واکمنه او خپلواکه اداره جوړه کړي، چي دا اداره به د حقایقو پر بنسټ زیات عرب توکمي لري، نو ځکه یهود له همدې ډول تګلاري سره مخالف وو، ځکه چي یهود به پکښې د لږکي په توګه ګمارل کیږي.

نه یوازي یهود له همدا ډول واکمني اداري څخه ناخوښه وو، بلکي عربو ته هم د منلو وړ نه وه، ځکه عربو په هیڅ صورت نه غوښتل چي دا وړاندیز و مني، عربو وېره درلوده چي د برتانیې څخه صادره سوې دا اداره به پخپل ترکیب کي زیات شمېر یهود ګډ کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عربو پاڅون او د یهودو کډوالي (Arab Riots & Jewish Immigration) :

په ( 1920)، ( 1921) او ( 1929) مو کلونو کي عرب ملیتونه د بالفر د تړون پر خلاف راپورته سول، او د یهودو د کورځای د ټاکني پر ضد ئې خپل پاڅونونه پیل کړل.

دا پاڅونونه عموما په بیت المقدس ، هبرون، جفا او حیفا ښارونو کي سر ته و رسېدل، ددې پاڅونونو پاڅونکي حاجي امین الحسیني د بیت المقدس مفتي، او عارف العارف چي د فلسطین یو وتلی ژورنالست و، وو.

د ( 1929) کال پاڅون د عرب � یهود د مخالف سازمان پر شاوخوا و سو، او دا پاڅون د هغې انګېزې پر اساس و سو، چي ویل به ئې یهود پلان لري چي پر خپله سیمه دیوال را و ګرځوي، او یا هم د مسلمانانو پر سپېڅلو ځایونو له هغې جملې څخه پر اقصی مسجد بریدونه و کړي.

ددې پاڅون په بهیر کي تقریبا له بیت المقدس څخه پنځوس زره تنه یهود و شړل سول، د هبرون ښار هم تر ډېره حده له دوی څخه پاك سو. خو سره له دې بیا هم په ( 1930) م کال کي له ختیځې اروپا څخه زیات یهود و فلسطین ته راتلل. د سختو اقتصادي ستونزو او تبعیضي قانون له امله زیات شمېر یهود هم له پولینډ څخه و فلسطین ته راغلل.

په جرمني کي د هتلر د راپورته کېدو سره سم هم فلسطین ته د یهودو د لېږدېدو لړیو ادامه پیدا کړه، او له جرمني څخه زیات شمېر یهودو و فلسطین ته خپل راتګ همداسي روان و ساته.

### عرب پاڅون او سپینه پاڼه (Arab Revolt & White Paper ) :

په ( 1936) میلادي کال کي په پراخه پیمانه پاڅېدني چي وروسته بیا د عرب انقلاب په نامه و نومول سو، مات سو. دا انقلاب د حسیني کورنۍ تر رهبرۍ لاندي سر ته ورسېد چي د نازي جرمني لخوا ئې بودجه ورکول کېده. دې انقلاب په سلګونو عرب او په سلګونو یهود و وژل.

د حسیني کورنۍ دواړه فلسطیني عرب او یهود چي ددوی د سلطې مخالفت به ئې کاوه، تورو خاورو ته لېږل.

(Yishuv)چي د یهودو ټولنه ده، ددې وژنو ځواب ورکاوه، یهودو به ترور او ترهګري کول، بمونه به ئې پر ښارونو غورځول او بېګناه عرب به ئې خپل ښکار ګرځاوه، یهودو به دا چاري د (Revisionist group) په وسېله سر ته رسولې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وروستيو کلونو کي بيا برتانيې ځيني اقدمات و کړل چي دا پاڅونونه خنثی کړي، حسيني و عراق او له هغه ځايه بيا و نازي جرمني ته پناه يووړه، هلته مېشت سو او وروسته ئې بيا د (SS ) پنامه يوه ډله تنظيم کړه چي په يوګوسلاويا کي ئې فعاليت کاوه.

د (Peel ) او (Wood head ) کميسيونونو په ( 1937) او ( 1938) کلونو کي يوه طرحه وړاندي کړه، چي د هغې له مخي به فلسطين پر دوو برخو ويشي، چي يوه وړوکي برخه به ئې يهود او زياته برخه ئې د عربو تر واکمنۍ لاندي وي. دا طرحي برسېره پر دې غوښته چي پخپله خوښه عرب او يهود سره بېل او نفوس ئې جلا کړي.

يهودو مشرانو ته د طرحي تر لېږلو وروسته هغوی هوکړه کړې وه، خو عرب ئې مخالف وو او رد ئې کړه.

کوچنيو پاڅونو لا همداسي ادامه درلوده، د دې لپاره چي برتانوي حکومت دا پاڅونونه په بشپړ ډول ځپلي وي، نو ئې په ( ۱۹۳۹) ميلادي کال کي د سپيني پاڼي (White Paper ) پنامه يو فرمان صادر کړ. او په دې منحوس فرمان کي يې ليکلي وو چي ( 15000) تنو يهودو ته دي اجازه ورکول سي چي د فلسطين خاوري ته داخل او همالته مېشت سي. او دا شمېر به په هر کال کي ( 15000) تنه وي او د پنځو کالو لپاره به پر مخ ځي، او تر هغه وروسته به د مهاجرت چاري د عرب چارواکو په منظورۍ پوري اړه لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هولوکاسټ (The Holocaust) :

ددوهمې نړيوالي جګړې په بهير کې ( 1939-45) ډېر فلسطيني عرب او يهود د ائتلافي ځواکونو سره يو ځای سوه. يهودو لازمه بلله چې د نازېانو سره و جنګيږي. په ( 1941) م کال کې برتانويانو Jewish Hagannah د عمومي عفوې په ترڅ کې خوشې کړ، Hagannahد يهودو د يوې لويې ډلې مشر وو، تر خوشې کېدو وروسته د ) Hagannah)ډله د برتانوېانو سره يو ځای او د جرمن پر ضد يې جګړه کوله.

تر جګړې وروسته څرګنده سوه چې د شپږ ميليونه په شاوخوا کې يهود د جرمنېانو له خوا په اروپا کې په هلوکاست کې وژل سويدي. نورو هيوادونو و يهودو ته پناه نه ورکوله، يوازې اروپا وه چې دوی ته ئې د پاتې کېدو اجازه ورکوله.

و فلسطين ته د مهاجرت پر سر د برتانيې بنديزونه د سلګونو تنو په مړينه تمام سوه. اوس نو نور يهود ناهيلي وه او هم جدي وه چې زېات يهود و فلسطين ته راولې، تقريبا دوه نيم سوه زره تنه نورو يهودو و فلسطين ته د راتګ په هيله په مهاجرکمپونو کې شپې ورځې سبا کولې.

د هرې ورځې په تېرېدو سره په منځني ختيځ او فلسطين کې حالات لا وخيم او کړکېچن کېدل، متحدو اېالاتو او ورسره په څنګ کې څو نورو هيوادونو پر برتانېه فشار راوړ چې يهودو مهاجرينو ته دې د تګ اجازه ورکړي، د برتانيې او اروپائي پلاوو يوې ګډې اداري يوه فيصله و کړه چې په بېړنۍ توګه دې سل زره تنه يهود و فلسطين ته داخل شي.

عربو د لوېديځ پر دې فيصله نيوکې و کړې او پر برتانېه يې فشار وارداوه څو ددې پرېکړې مخه و نيسي. خو برتانيې ته حالت بيخي متغير وو، او فکر يې کاوه چې فلسطين نور تر واك او سلطې وزې. نو يې هغه خپل ترون چې د ) Balfour)اعلامېه وه و ملګرو ملتونو ته راجع کړه. نور نو فيصله د ملګرو ملتونو له لوري کېدله، چې دې ځېل سوي سيمې ته به څه ورکړي،

تجزيه يا Partition

ملګرو ملتونو د منځنې ختيځ د دې ستري لانجې د کتنې او څېړنې لپاره خپل ځانګړی پلاوی چې(UNSCOP ) ، فلسطين ته د ملګرو ملتونو ځانګړی هيات نوميږي، و ټاکی. دې پلاوي د ملګرو ملتونو عمومي اسنبلې ته د منځنې ختيځ په اړه خپله طرحه وړاندې کړه.

دې طرحې فلسطين پر دوو مساوي برخو ويشی، د عربو دولت او د يهودو دولت ، او پرېکړه يې کړې وه چې بيت المقدس به تر نړيوالي اداري لاندې وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملګرو ملتونو عمومي اسنبلې دا طرحه د ( 1947) کال د نومبر په اووه ویشتمه نېټه په -Resolution � UN )
(GA 181یا د جنرل اسنبلې په ۱۸۱ ماده باندي و منله.

ملګرو ملتونو ویلي وو چي ددواړو نړیوالو قدرتونو، شوروي اتحاد او متحدو ایالاتو د وړاندیزونو پر بنسټ یې دا کار کړی دی. تر پرېکړې وروسته یهودو د ملګرو ملتونو دا منحوسه پرېکړه و منله، خو د فلسطیني عربو لوړ ضمیر کله دا منله چي ددوی سیمه دي پر دوو برخو ووېشل سي، نو یې د رد ځواب ورکړ.

د عربو له ردوني پا ویټو وروسته بیا هم د معاهدې له مخي د فلسطین ځمکه پر دوو مساوي برخو ووېشل سوه، د تجزیې پر مهال د ټول فلسطین نیمائي ځمکه د فلسطیني عربو ملکیت وو، چي له هغې جملې څخه یې نیمائي د شهزاده ګانو ملکیت وو، او پاته اته په سلو کي یې د یهودو ځمکي وې.

یوه سر شمېرنه ښئي چي(1.2) میلیونو عربو په فلسطین کي ژوند کاوه، پداسي حال کي چي شپږ سوه زرو تنو یهودو په ځینو نورو سیمو او خاص ډول تر نړیوالي اداري لاندي بیت المقدس کي شپې ورځي سبا کولې.

د ملګرو ملتونو د عمومي اسنبلې د ( 181) مي مادې د پرېکړه لیك له مخي باید له فلسطینه دوې بیلي سیمي جوړې سي، عرب واکمني او هم یهود واکمني، او بیت المقدس به هم د خپل سپېڅلتوب او جیوپولیتیك ارزښت له مخي نړیوال کیږي.

په جغرافیائي ډول له وارد شوو پراخ شمېر یهودو څخه سل زره تنه د بیت المقدس او د هغه د شاوخوا سیمو څخه لیري شول. او دوی د یوې ترآډې په واسطه چي و فلسطیني عربو ته وسپارل سوه، لیري و ساتل سوه. ددې تراډې یا (Corridor) ټول نفوس عرب وه، او هم دې ترآډې د لاډ او رام الله په نامه لوی ښارونه او د کلونیه ، قسطل او ایماوس پنامه کوچني ښارونه درلودل.

د غربي تیوري پر اساس جوړي سوي د ملګرو ملتونو دا طرحي کومه ښه پایله و نه درلوده، د عرب فلسطینیانو او یهودو تر منځ خونړیو پلانونو وضعه لا بحراني او کړکېچنه کړه.

عرب سر مشریزي د حاجي امین الحسیني په نوښت خپله اعلامیه صادره کړه، او په ډاګه ئې کړه چي د فلسطین د خپلواکۍ له پاره به جهاد کوي، او دا سپېڅلې سیمه به د یهودو له منګولو را کاږي. خو تاریخ ثابته کړې ده چي په سیاست کي ډیري پریکړې د پردې تر شا سوي دي، نو عرب مشرانو که څه هم دا اعلامیه په قلمونو لاسلیك کړه، خو په حقیقت کي یې بیلي بیلي مفکورې او هیلي درلودې.

د اردون مشر ملك عبدالله د اسرائیلو سره یو غیر رسمي او مرموز تړون لاسلیك کړی وو، چي ددې تړون له مخي به اسرائیل د فلسطین پر یوه سیمه چي په لوېدیځ بانك یا (West Bank ) پوري اړه لري او فلسطیني عربو ته ورکول سوېده، تیری کوي، او اردون به هم د فلسطیني دولت د جوړېدو مخنیوی کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورئې بېا غوښتل چې د عربو او یهودو ګډې سیمې چې د فلسطین په شمال کې پرتې دي، تر خپلې ولکې لاندې راولي.

## د خپلواکۍ جګړه :

د خپلواکۍ لپاره جګړه، پر دوو جګړو وېشل کیږي، له خپلواکۍ تر مخه جګړه او له خپلواکۍ راوروسته جګړه.

د عرب ځوانانو او یهودو تر منځ جګړه یوازې د ملګرو ملتونو د ( 181) ګڼې معاهدې له صادرېدو لږ وروسته پیل سوه. تر ډېره ځایه عربو د دفاع تګلاره درلوده، او پر هیڅ یوه بانډ او یا هم سیمه ئې تېرى و نه کړ، که څه هم چې د اردون یوه بانډ، فلسطین ته په ور سپار ل سوو ځیني سیمو باندې یرغلونه و کړل.

له خپلواکۍ تر مخه:

مخکې تر دې چې اسرائیل خپله خپلواکي اعلان کړي، د فلسطیني عربو دوو لښکرو چې د یوه مشري ئې د حاجي امین الحسیني او ددوهم هغې دا ئې د فوزی الکاکجي په غاړه وه، خپلې لښکرې په دې نیت چې په دوو عرب ښارګوټو کي به پر یهودو بریدونه کوي، ځاېپر ځاى کړې.

د عربو د یوه لښکر مشر کاکجي، له سورئې څخه و بیت المقدس ته راغی، برتانوي حواکونو له ده سره تړون درلود چې په بریدونو کې به ګډون نه کوي، خو کاکجي دا تړون ته ژمن پاتې نه سو، او له (Galilee ) نومې سمندرګې څخه ئې پر صهیونیستانو برید و کړ.

د کاکجي لښکر د صهیونیستانو د هګانا، ارګن او لیهي له پوځې ګروپونو سره مخامخ سو. او ورسره ئې درنې جګړې و کړې.

په بیت المقدس کې د عربو پاڅون د ( 1947) کال د نومبر پر دېرشمه نېټه پاى ته ورسېد، خو فلسطیني سرتېرو د همدې کال تر پایه د بیت المقدس محاصره و ساتل، بیت المقدس ته ئې د تیلو، اوبو، غذائي او ارتزاقي موادو له تېرېدو مخنېوى کاوه.

خو ( 1949) کال په عمومي ډول، دواړو هم عربو او هم یهودو اوسېدونکو ته زیان واړاوه، په بیت المقدس کې عامه وژنې تر سره سوې، او ډېر عرب اوسېدونکو له خپلو کورځایونو کده وکړه.

له برتانوي حکومته چې څومره د جګړې د پاى ته رسېدو توقع کېدله، هو یې و نه کړه، خو جګړې کرار کرار پاى و موند، هغه څه چې د جګړې د پاى ته رسېدو لامل وو هغه د وسلو نشتوالى او د روزل سوو عسکرو نه موجودیت وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره چې اسرائيلو د بيت المقدس بنديز پای ته رسولی وي، نو د يهودو يوه سازمان، هګانا خپل يو پلان په کار اچولی وو، دې پلان د مسلحو ځواکونو، پوځي تکتيکونو او په پورته او کښته سيمو کې د يهودو د عملياتو تشکيل جوړاوه.

خو د پلان د پلي کېدو شېبه هم را ورسېده، هګانا خپل لومړي عمليات د 1500 تنو ځواکونو په درلودو سره پيل کړل، دې يهودو ځواکونو د عربو پر کلونيه او قسطل ښارونو چې بيت المقدس ته د ننبلونکي سړك په څنګ کې پراته وو، بريدونه پيل کړل او د عربو محاصره يې پای ته و رسول.

د قسطل ښار د اپريل پر اتمه نېټه د يهودو لاس ته ورغی، او د هغه ځای فلسطيني پياوړيقوماندان عبدالقدير الحسني شهيد کړل سو، او په شمال کې د کاکجي حواکونو ته هم ماته ورکول سوه.

د يهودو مشر په خپل يوه بيان کې وويل چې دا برېاليتوبونه غواړي د متحدو ايالاتو ولس مشر ترومان ته وښيي چې يهود نه ماتېدونکی قوت دی.

د عربو بريد :

په ١٩٤٧ م ميلادي کال کې انګليسي عسکر له فلسطينه ووتل.د برتانيې په وتلو سره نو نور په فلسطين کې دا درامه امريکا او اسرائيلو په لاس کې واخيسته. د متحدو اېالاتو له لوري لوبغاړی هاري ايس ترومن او د اسرائيلو له لوري داکتر وايزمن وو.

د ( 1948) ميلادي کال د مې پر ( 14) مه نېټه يهودو د اسرائيلو يو خپلواك دولت اعلان کړ .

د اسرائيلو د خپلواکۍ پر مهال که څه هم وايزمن ناروغ وو، خو خپله پوره هڅه ئې کوله چې اسرائيل په امريکا، فرانسه، او برتانوي حکومت باندي په رسمي ډول و پېژني.

همداسي و سول، داکتر وايزمن له هاري ايس ترومن څخه د اسرائيلو د رسميت پېژندني په اړه تحريري يا ليکلی سند تر لاسه کړ.

د امريکا ولس مشر هاري ايس ترومن په خپلو ياددښتونو کي داسي ليکي : يولس دقيقې وروسته له هغه چې اسرائيلو خپل خپلواك دولت اعلان کړ ، ما خپل مطبوعاتي منشي چارلي راس راوغوښت او ورته و مي ويل چې هر څومره ژر دي و نړۍ ته د متحدو اېلاتو لخوا د اسرائيلو د رسميت پېژندني اعلاميه نشر کړي، چارلي راس هم په ډېرو لنډو شېبو کي د نړيوالو تر غوږونو دا اعلاميه و رسول.

د امريکا ولس مشر هاري ايس ترومن، چې له ١٩٤٣ څخه بيا تر ١٩٥١ پوري ئې ولس مشري و کړه او پخپله همدې دوره کي ئې د اسرائيلو دولت په رسمينت و پېژاند.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فلسطيني خاوره کې د اسرائيلو د خپلواك دولت د اعلانولو او د متحدو ېالاتو له لوري د همدې دولت رسميت پېژندني په مسلمانه نړۍ کې د ډېرو مسلمانانو غبرګون را و پاراوه، په همدې شپو او ورځو کې ګاونډيو عرب هيوادونو پر اسرائيلو بريد و کړ، دوی دا بريد د اسرائيلو پر ځو سيمو و کړ. د ۱۹۴۸ م کال د مې ۱۴مه-: د اسرائيلو لومړنی صدراعظم David Ben-Gurion په فلسطين کې د اسرائيلي خپلواك حکومت د خپلواکۍ اعلاميه لولي.

د بريد په لومړۍ مرحله کې د مصر او سورئي ځواکونو پرمختګ کړی وو، په ځانګړې ډول مصر چې د ټانکونو او درنو وسلو ملاتړ ور سره وو، ددې بريد په بهير کې مصري ځواکونه و توانېدل چې (Negev ) فتحه او ډيري سيمي چې د معاهدې له مخې يهودو ته ورکول سوي وې، و نيسي.

د مصر او اردون دې برياليتوبونو د فلسطينيانو د يوه خپلواك دولت پر جوړېدو سپوری و غورځاوه، اردون پر خپله هغه معاهده چې يهودانو ته په ورکول سوو سيموبه يرغل نه کوي،وفا و کړه، خو سوريه او مصر پر خپلو ژمنو پاتي نه سول.

اسرائيلېان تر اوسه په تلابيب کې د مصري ځواکونو لخوا د هغه مهال سخت او کوټلی بريد پر زړه لري، چې په ځومره زېات شمېر الوتکو ئې پر سيمو بريدونه و کړل. مصرېانو په نيګيف کې هم همداسي بريد سر ته رسولی وو، او غوښتل يې چې دا سيمه د اسرائيلو له منګولو و باسي، سورئې هم له وخت څخه په ګټه اخيستنه په همدې جګړه کي فلسطين ته په ورسپارل سوو سيمو کې د ليدني وړ برېاليتوبونه تر لاسه کړه.

کله چې اردون د معاهدې له مخي پر يهودي سيمو بريدونه و نه کړل، نو عرب سرمشريزي هغه لاري چې بيت المقدس ته تللې، محاصره کړې، چې په همدې ترتيب ئې بيت المقدس چې د ملکرو ملتونو د دوو معاهدو له مخي نړيوال سوی وو، تر سخت فشار لاندي راوست. په بيت المقدس کي مېشت يهودي دولت بله لاره و نه مونده، د (Burma Road )پنامه ئې د يوې بلي لويي لاري پرانيستلو کار پيل کړ، د همدې لاري په پای ته رسېدو سره ئې د بيت المقدس محاصره پای ته ورسول.

د ( 1948) ميلادي کال د جون په مپاشت کي يو اوربند د ذيدخلو ځواکونو لخوا عملي سو، خو عربو دا اوربند و نه مانه او د څېړونکو له نظره عربو ددې اوربند د نه منلو په اساس لويه سهوه و کړه. اسرائيلو له همدې اوربند څخه خپله اعظمي ګټه پورته کړه. خپل عسکر ئې د جګړې لپاره و روزل، په وسلو بار لوئي کښتۍ ئې سيمي ته واردي کړې، او شپېته زره کسيز ځواك چې په مجهزو وسلو سنبال وو، و جکړې ته تيار سی کړ.

ددې اوږده اوربند په بهير کې د اسرائيلو د هګانا، پالما، ارګن او ليهي ګروپونه سره يو ځای او په ګډه ئې د ) I.D.F)يا Israel Defense Force د اسرائيلو دفاعي ځواك په نامه يو لوی ځواك جوړ کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې څلورو اسرائيلي ډلو يووالی په رښتيني ډول ټينګ او يو موټی و ساتل سو، حتی تر دې چې د اوربند پر مهال اسرائيلي ارګن، سازمان غوښتل په وسلو يوه بار کښتۍ چې د (Altalena ) پنامه يادېدل د خپل ځان لپاره په کوچنيو جګړو کي استعمال کړي، خو کله چې اسرائيلي لومړی وزير بين ګرين ددې کښتۍ د سپارلو غوښتنه و کړه نو ارګن ډلي يې انکار و کړ، او په پايله کي د اسرائيلو لومړي وزير د کښتۍ د غرقېدو امر وکړ .

د اوربند پر مهال له عرب هيوادونو سره بخت ياري و نه کړه، د يوه اسلامي هيواد لخوا فلسطينيانو ته په وسلو يوه بار کښتۍ هم چي و سوريې ته د تګ پر لاره وه، سورئې ته و نه رسېدل، او د اسرائيلو هګانا ډلي محاصره کړه. د اوربند له پای ته رسېدو سره سم اسرائيلو دمصريانو سره جګړه پيل کړه، مصريانو ته ئې ماته ورکړه او سيناي پينينسولا Sinai Pininsula ته داخل سول. د اسرائيلو دا بري هم عربي نړۍ حيرانه کړه، خو د برتانوي الوتکو په ليدو سره د اسرائيلو دفاعي ځواك يا I.D.F و شاته تګ ته اړ سو.

په همدې لس ورځنۍ جګړه کي چي ددوو اوربندونو تر منځ پېښه سوې وه، اسرائيلي ځواکونو د عربو دوه نور ښارګوټي چي رام الله او لاډ نومېدل، هم لاندي کړه.

د رام الله او لاډ ښارګوټو ستراتيژيك اهميت درلود، ځکه ددې ښارګوټو له لاري عربو کولای سول چي بيت المقدس محاصره کړي. اسرائيلي ځواکونو ددې دواړو ښارونو له نيولو وروسته له دې ښارګوټو ډېر فلسطينيان په بې رحمه او ناځوانمردانه توګه ووژل، او ډېر نور يې له دې ښارګوټو و شړل.

اسرائيلي ځواکونو په ډېر بې رحمانه ډول هغه کوچني فلسطيني کلي او بانډې چي د تلابيب په شاوخوا کي پراته وو، هم په بشپړ ډول ويران کړل، ځکه دوی غوښتل په مرکزي فلسطين کي چي د اسرائيلو دولت دی، فلسطينيان و نه اوسيږي.

څېړونکي چي د منځني ختيځ په چارو کي څېړنه کوي، ددې بريالیتوبونو اصلي لامل د يهودو اتفاق، له وخت څخه ګټه اخيستنه او همږغي بولي. خو متاسفانه چي عربو او هم فلسطينيانو دا ډول بری په لاس را نه وړ.

کله چي په ( 1949) کال کي د عربو او اسرائيلو تر منځ جګړه پای ته ورسېده، نو د ملګرو ملتونو يوه راپور و ليکل چي اسرائيلو له عربو څخه هغه سيمي چي د ملګرو ملتونو د طرحي په اساس و فلسطين ته ورکول کېدې، لاندي کړيدي، او تر اته اويا په سلو کي زياته سيمه ئې اشغال کړېده، خو هيڅ يوه هڅه اوپلان بيرته ددې سيمو د اخيستلو لپاره دملګرو ملتونو لخوا وړاندي نه سو، او نه ئې بيا بيت المقدس نړيوال اعلان کړ.

د فلسطيني حکومت د جوړېدو لپاره د ملګرو ملتو په پلان کي ورکول سوې ځمکه يو څه اسرائيلو لاندي کړه، او مصر هم د غزې تراډه لاندي کړه، غربي بانك يا West Bank چي له اقتصادي پلوه ئې ستر ارزښت درلود د اردون په لاس ورغی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې خونړۍ جګړې په بهیر کې او یا لږ راوروسته کې ( 762000) تنه فلسطینیان عرب له اسرائیلي سیمو څخه راوشړل سول او په ګاونډیو عربي هیوادونو کې یې پناه واخیسته .

دا سیمي تر همدا اوسه پوري همداسي بې سرنوشته پاتي دي، عرب هیوادونو له اسرائیلو سره د همېشنۍ سولي د تړون د لاسلیکېدو څخه سرغړونه کوله، اسرائیلو هم له خپلي موقع ګټه اوچتوله، او د یوه کمیسیون په منځګړیتوب ئې خپلي پولي و ټاکلې، چي په نړیواله کچه نه دي منل سوي.

تش په نامه د ملګرو ملتونو اداري په 1948 او 1949 میلادي کلونو کي د عربو او اسرائیلو تر منځ اوربندونه ترتیب کړیدي. د ملګرو ملتونو عمومي اسنبلې 194 مي معاهدې د عربو او اسرائیلو تر منځ ددښمنۍ پای اعلاناوه او ټولو هغو کډوالو ته چي غواړي بیرته خپلو کورڅایونو ته کډه و کړي، اجازه ورکول .

همدا ډول د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د 62 مي معاهدې موخه دا وه چي د فلسطینیانو او اسرائیلو تر منځ یو لنډ مهاله تړون لاسلیك کړي، چي دا تړون لیك به ددواړو خواوو تر منځ د سولي یو دایمي او اوږد مهاله تړون ته لار پرانیزي.

د اسرائیلو پولي چي په ( 1949) کال کي د یوه لاسپوڅي کمیسیون لخوا ټاکل سوي وې، یو لنډ مهاله ارامي را منځ ته کړه، خو د کډوالو موضوع چي د ټولو موضوعاتو په سر کي ئې ځای درلود، همداسي پاتي سوه.

د تړون په وسیله رامنځ ته سوې ارامي ورو ورو په نارامۍ بدلېده، چي اسرائیلو ډېر کم شمېر مهاجرو ته د بیرته راتګ اجازه ورکړه او زیات شمېر نور مهاجر همداسي په پنډ غالو کي پاتي وو.

کله چي په ( 1948) کال کي نړۍ Bipolar یا دوه قطبي سوه نو شوروي اتحاد او د ختیځي اروپا هیوادونو چي لومړی ئې د صهیونیستي حکومت ملاتړ کاوه، اوس د عربو پلوي و نیول. په داسي حال کي چي متحدو اېالاتو او د لویدیځي اروپا هیوادونو د اسرائیلو ملاتړ کاوه.

د زمان په تېرېدو د اسرائیلو دفاعي ځواك یا I.D.F ټول په فرانسوي او امریکائي وسلو سنبال سو، او عرب هیوادونه په خاص ډول سوریه او مصر له شوروي تکنالوجۍ نه ګټه اخیسته. عرب سرمشریزي یا Arab League د اسرائیلو پر ضد د صنعتي هیوادونو یو ائتلاف جوړ کړ، چي تر ( 1990) کال پوري یې بشړ فعالیت درلود.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سینای کمپاین The Sinai Campaign :

په مصر کې د جمال عبدالناصر په مشرۍ مصرېانو فاروق پاچا له واکه و غورځاوه، او په همدې بهیر کې مصر د اسرائیلو سره د سولې په رامنځ ته کولو کې هم پرمختګ و کړ. که څه هم چې مصرېانو په 1954 کال کې یو اسرائیلي بانډېه داسې حال کې چې هڅه ئې کول په مصر کې د متحدو ایالاتو په اطلاعاتي سازمان او ځینو نورو بهرنیو سفارتونو کې چاودنې و کړې و نیول. وروسته څرګنده سوه چې ددې چاودنو موخه دمتحدو ایالاتو او مصر ترمنځ د اړیکو خرابول وه .

مصر چې د اسرائیلي لاسوهنو او سبوتاژونو څخه نا ارامه وو، غوښتل وسلې رانیسي. کله چې د مصر دا غوښتنه د غربي بلاك لخوا رد سوه، نو ئې و ختیځ بلاك ته مخه کړه .

د مصر دیپلوماسۍ دا منله چې که غواړی له لوی ځواك سره اړیکې ټینګې کړی نو د هغه له دوست او ملګرې سره اړیکې و نیسی . مصر هم ددې لپاره چې له شوروي اتحاد سره اړیکې ښې سوي وي، د چکوسلواکیا سره ئې د وسلو رانیولو تړون لاسلیك کړ.

د مصر ولس مشر جمال ناصر د سویز کانال او تیران معبرونه چې و اسرائیلو ته ئې لار موندل، بند کړل. اسرائیلي استراتیژي جوړونکي په دې باور وو چې د چکوسلواکیې څخه مصر ته د وسلو رارسېدو سره جوخت به مصر پر اسرائیلو برید کوي. نو خپله هم د وسلو رانیولو په تلاښ کې سو. دا چې اسرائیلو پخوا له دې د فرانسې سره د وسلو واردولو تړون درلود، نو ئې له فرانسې څخه یو ځل بیا د وسلو په راواردولو پیل و کړ، ډېر اسرائیلي سازمانونه په دې اند وو چې له مصري بریده له مخه باید اسرائیل جګړه پیل کړي.

په مصر کې د سویز کانال چې ۱۹۵ کیلومتره اوږدوالی لري، او د مدیترانې سمندر او سره بحیره سره نښلوي.

حالات ورځ تر ورځې بحراني کېدل، او په 1956 کې اسرائیل، فرانسه او برتانیه د سویس کانال د ملکي کولو د پلان جوړېدو لپاره سره یو ځای سوه، او د یوه پلان پر سناریو ئې کار پیل کړ. پرېکړه و سوه چې اسرائیل به پر سینای او میلتا سیمو باندې برید کوي، او فرانسه او برتانیه به التوماتوم ورکوي.

دا پلان چې د 1956 کال د اکتوبر پر 29 مه نېټه د Sinai Campaign په نامه یاد سوی وو، پیل سو. اسرائیلو په چټکې سره سینای و نیو، د متحدو ایالاتو دولت پر دې کړنه قهر څرګند کړ، او برتانیه، فرانسه او اسرائیل ئې تهدید کړل.

د ملګرو ملتونو عمومي اسنبلې په خپله غونډه کې 997 نمبر معاهده تصویب کړه، چې له اسرائیلو سره ئې د سینای څخه د ژر پرېښودو غوښتنه په ډاګه کوله. خو اسرائیل د فرانسې او برتانیې په ملاتړ په سینای کې تر څو مېاشتو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاته سول. کله چي یې ددې نړیوالو کانالونو د خلاصون ضمانت یا ګرنټي تر لاسه کړل، نو بیا د ملګرو ملتونو او په خاص ډول د متحدو ایالاتو په فشار راووتل، خو دملګرو ملتونو ځواك په سناى کي ځاى پر ځاى سو.

## یوه بایلونکې شپږ ورځنۍ جګړه:

په عمومي ډول ( 1960)م کلونه د عربو او اسرائیلو تر منځ د شخړي عمده کلونه وو، د اسرائیلو د مخکني پلان پر اساس چي غوښتل ئې د ګالیلې له سمندر څخه د اسرائیلو مرکزي او سهیلي سیمو ته اوبه و رسوي، د خپل پلان په عملي کېدو پیل وکړ. دا پروژه اصلا د متحدوایالاتو د استازي Eric Johnston لخوا په 1955 کال کي وړاندي سوې وه چي عرب انجنیرانو هم پرې موافقه کړې وه، خو په غیر مستقیم ډول ئې د اسرائیلو د رسمیت پېژندني له امله ردوله.

د ترلو دروازو تر شا په غونډو کي اسرائیلو او اردون د همدې اوبو د وېش پر سر موافقې ته رسېدلي وو.

په 1964 کال کي په ځو سر مشریزو غونډو کي عرب مشرانو هوډ څرګند کړی وو چي د P.L.O یا د فلسطین د خپلواکۍ سازمان په نامه به یوه لویه ټولنه تاسیسوي. همداسي یې و کړل. یوه اعلامېه ئې خپره کړه چي دا ټولنه یا سازمان به د اسرائیلو پر ضد د ویجاړۍ لپاره چټك ګامونه اخلي، او د اردون د سیند ټولي هغي لاري او سرچینې چي د ګالیلې رود اوبه کوي، اړوي. ځکه چي غوښتل یې و اسرائیلو ته د اوبو رسولو په پروژه کي خنډونه واچوي.

سورئې او لبنان د فلسطین د خپلواکۍ سازمان پر همدې اعلامیې چي بشپړوي به ئې، پیل و کړ. سورئې خپل تراکتورونه موظف کړل چي ټولي هغي سرچینې چي په ترتیب سره و اسرائیلو ته اوبه ورکوي، ویجاړې کړي.

اسرائیلو د سورئې پر همدې عمل سخت غبرګون و ښود، او پر همدې تراکتورونو ئې ډزي و کړې، سورئې د همدې ډزو په حواب کي د اسرائیلو په شمال کي پر ځیني ښارونو ډزي پیل کړې، څو دا جګړه د الوتکو تر بمبارونو و رسېده.

شوروي اتحاد چي په سوریه کي یې د د شوروي پلوه حکومت ملاتړ کاوه، سورئې ته وویل چي اسرائیلو خپل پوځونه د سورئې و پولو ته راوستلي او د یوه لوي برید پلان لري ، لکه څنګه چي حالات ورځ تر ورځي کړکېچن کېدل، نو سورئې له مصره څخه د پوځي مرستي غوښتنه وکړه.

د همدې پېښو او د سورئې د غوښتني په تعقیب د 1967 کال په می کي جمال ناصر خپله سخته او له غبرګونه ډکه مرکه خپره کړه او په یوه برخه کي ئې دا توري وویل: ( د اسرائیلو موجودیت ډېر اوږد سو، موږ د اسرائیلو و تیري ته هرکلی کوو، او موږ و همدې جګړې ته چي له ډېري مودې ئې په انتظار کي وو، ښه راغلی وایو، وروستۍ شېبې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسېدونکي دي، او هغه جګړه چي موږ به اسرائیل پکښي له منځه ورو راورسېده). مصری ولس مشر جمال عبدالناصر

په همدې ورځ جمال ناصر د ملګرو ملتونو د بېړنۍ قوې يا (UNEF ) ځځه و غوښتل چي له سینای پينينسولا او غزې تراډې څخه ووزي، د ملګرو ملتونو سرمنشي جنرال U-Thant موافقه و کړه چي په رسمي ډول به د مې پر اتلسمه خپلو پوځونه له سیمي باسي.

څېړونکي نظر ورکوي چي جمال ناصر عقېده درلوده، چي د ملګرو ملتونو پوځونه به له سیمي و نه وزي، او دا به دده لپاره يوه بهانه وي چي جګړه و نه کړي.

د همدې کال د مې پر درویشتمه ناصر د اسرائیلي ترانزیت د تړلو امر وکړ، او په همدې ترتیب متحداېالات په هغه ژمنه کي چي و اسرائیلو ته ئې د اوبو رسولو د لارو د ازادی په اړه ورکړې وه، پاته راغلل.

دا چي جمال ناصر رښتیا غوښتل د اسرائیلو سره جګړه و نښلوي، په دې اړه بیلا بیل نظرونه موجود دي:

(Avi Shalaim)چي د منځني ختیځ د چارو څېړونکی وو، وائي چي جمال عبدالناصر هیڅکله نه غوښتل د اسرائیلو سره جګړه و نښلوي، بلکي هغه به د شوروي اتحاد د مانورو او هم د سورئې دغوښتني په خاطر دا ډول ویناوي کولې.

او یو بل څېړونکی (Michael Oren) بیا څرګندوي چي شواهد ښئي چي جمال عبدالناصر په رښتیني توګه غوښتل د مي په اته ويشتمه حګړه پيل کړي، خو اسرائیل په دې راز پوهیدلي او موضوع ئې د امریکا تر ولس مشر جانسن پوري رسولې وه، جانسن د شوروي اتحاد صدراعظم کاسیګین ته تیلیفون کړی او د جګړې د بدو عواقبو په اړه ئې اخطار ور کړی وو، او کاسیګین ئې دې ته و هڅاوه څو جمال ناصر له همدې جګړې را وګرځوي.

د روانو حالاتو په ترڅ کي د اردون پاچاملك حسين د مصر سره يو تړون لاسليك کړ چي د جګړې لپاره ئې د اردون تیاری څرګنداوه، ملك حسين هم پخپله يوه بيانيه کي دا جملې ویلي وې:

)د مصر، اردون، سورئې او لبنان سرتېري د اسرائیلو له سرحدونو سره مېشت دي، څو اسرائیلو ته غاښ ماتونکی ځواب ورکړي، موږ یوازي نه یو، بلکي د عراق، الجریا، کویټ، سودان او ټول عرب ملت سرتیري له موږ سره دي، موږ به نړۍ حیرانه کړو او و به ښیو چي عرب څومره يو موټي دي.(

عراقي ولس مشر رحمان عارف هم يوه بيانيه ورکړې وه چي د اسراییلو پر ضد ئې د جګړې اخطار په ډاګه کاوه.

له اسرائیلو سره د متحدو ایالاتو مرسته همداسي روانه وه، او ګمان کېدی چي اسرائیل به دا جګړه ګټي، خو د عربي هیوادونو په تېره بیا سورئې، مصر، او عراق وسلو چي د شوروي اتحاد په وروستۍ تکنالوجي سنبال وي دا حس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنډاوه، اسرائیلو د کاغذ پر مخ ویل چي د الوتکو شمېر ئې د مصر او سورئې تر هغو اوړي، پداسي حال کي چي مصر د هغه مهال تر ټولو پرمختللي الوتکي Mig-21 درلودې.

عامو اسرائیلو او یهودو او ددوی لوړ رتبه غړو ګمان کاوه او په دې اند وو چي اسرائیل به ماته خوري، نو مخکي تر جګړې ئې لا په سلګونو قبرونه د تلابیب په پارك کي کیندلي وو.

اسرائیلو پر خپلو اپوزیسیونونو ږغ و کړ چي د پوره یووالي لپاره دي په حکومت کي برخه واخلي،اپوزیسیونونو د اسرائیلي حکومت دا پرېکړه ومنل او ډیرو ګوندونو یو پراخ بنسټه حکومت جوړ کړ.

کله چي څرګندېدله مصر برید کوي، نو تر مخه ئې اسرائیلو برید پیل کړ، دوی دا جګړه د 1967 کال د جون د مېاشتي پر پنځمه نېټه پر مصرېانو پیل کړه ، یوازي ئې د جګړې په لومړیو شپو ورځو کي 400 الوتکي له منځه یووړې، اسرائیلي ځواکونو په خپلو چټکو عملېاتو کي سېناى پینینسولا او غزه تراډه هم کلابنده کړه، د جګړې په لومړۍ ورځ اردوني توپخانې پر بیت المقدس ډزي پیل کړې، خو د اسرائیلو لومړي وزیر Levi Eshkolد اردون ولس مشر ملك حسین ته خبرداری ورکړ چي د جګړې له ډګره لیري و اوسي، د خبرداري تر اورېدو وروسته ملك حسین هم له جګړې وېره درلوده، او د جنګ له صحنې راووت.

د جګړې له ډګره د اردون په وتلو، اسرائیلو له موقع ګټه پورته کړه، غربي بانك او بیت المقدس ئې هم محاصره کړ. د سورئې توپخانې د ګولان له لوړو څخه پر شمالي اسرائیلي سیمو خپلي ډزي پیل کړې، خو بل لوري ته مصر له اسرائیلو سره یوې معاملې ته ورسېد، کله چي اسرائیل د مصر له لوري پر ارامه سو، نو ئې تصمیم و نېاوه چي د ګولان لوړې لاندي کړي، د ګولان د لاندي کېدو پر سر د اسرائیلو حکومت او اپوزیسیونونو پر دې موافقه نه درلوده، په ځانګړې ډول موشېدایانو. Moshe Dayan

ملګرو ملتو اسرائیلو ته ګوته څنډلې وه چي اوربند ته به چمتو کیږي، او هغه وو چي د جون پر یولسمه اسرائیلو پر اوربند موافقه و کړه. د ملګرو ملتونو د پر له پسې معاهدو په لړ کي 242 نمبر معاهده هم صادره سوه، چي په جګړه کي شامل هیوادونه ئې د همېشنۍ سولي و خبرو ته رابلله، او هم ئې ویلي وو چي اسرائیل به له ټولو هغو سیمو چي په همدې جګړه کي ئې لاندي کړي دي، وزي.

په حقیقت کي همدې جګړې په منځني ختیځ کي د واك بیلانس ته تغیر ورکړ، اسرائیلو د 1948 کال په تناسب څو ځله زېاتي سیمي لاندي کړې، لکه د سیناې پینینسولا لویه دښته، د ګولان لوړې، غربي بانك او ځیني نوري سیمي. د مصر ولس مشر جمال ناصر چي له ۱۹۵۴ څخه تر ۱۹۷۰ پوري ئې واکمني و کړه او په مصر کي ئې د برتانیې ۷۲ کلنه واکمني پای ته ورسول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصر ولس مشر جمال ناصر چي د عربي نړۍ مشري ئې هم په غاړه درلوده، پر دې وياړ کاوه چې څنګه ئې په 1956 کا ل کي و اسرائيلو ته چي د فرانسې او برتانيې ښکاره ملاتړ ورسره وو. ماته ورکړه، خو دا ځل يي له اسرائيلو سره د متحدو اېالاتو د پوځي ملاتړ له کبله هيلي رښتيني و نه ختې.

د ځينو څېړونکو لکه فواد عجمي له نظره دې جګړې ددې پر ځای چي فلسطيني عربو ته نېکمرغي په لاس ورکړي، بدمرغي ئې ورکړه. په زرګونو عرب فلسطينيان ئې د اسرائيلو تر ولکې لاندي راوستل، او په منځني ختيځ کي ئې ځيني پاروني په وجود راوړې.

د الفتح په نامه سازمان چي په فلسطين کي ئې د پام وړ برېاوي تر لاسه کړيدي، په 1957 کال او د PLO يا د فلسطين د خپلواکۍ سازمان په 1964 کال کي تاسيس سول، چي ددواړو ګوندونو مرام د اسرائيلي حکومت شنډول او د فلسطيني هغې واك ته رسول وو.

د عربو او اسرائيلو تر منځ د شپږ ورځنۍ جګړي وروسته احمد شکايري Shukairy چي د فلسطين د خپلواکۍ د سازمان مشري ئې کوله له واکه ګوښه او اوسنی مېړنی مشر ياسر عرفات ئې د مشر په توګه و ټاکل سو، ياسر عرفات چي په رښتيني ډول ئې د فلسطينيانو ملاتړ درلود، په منځني ختيځ کي د يوه رښتيني او پياوړي اتل په توګه تر دې مهاله سالمه رهبري کوي،

د فلسطين د خپلواکۍ سازمان د فلسطينيانو د يوازني ګوند په توګه د ټولو عربي هيوادونو لخوا په رسميت و پېژندل سو. خو اسرائيلو په ټينګه له نړۍ څخه د همدې سازمان د نه رسميت پېژندني غوښتنه درلوده، د اسرائيلو يوازنی دليل چي ولي دا سازمان ګواښي دا وو چي نوموړي سازمان ترهګر فعاليتونه سر ته رسوي، هغه يهود چي په 1917 کا ل کي ئې دې سيمي ته کډې راوړي دي، شړي او په مرامنامه کي ئې د اسرائيلو د له منځه وړلو ماده وجود لري.

اسرائيلو په راوروسته کي څرګنده کړه چي په حقيقت کي ئې غوښتل له بيت المقدس پرته نوري ټولي سيمي د عرب ګاونډيانو سره په سوله ايز ډول د تړون له مخي و سپاري، خو ددوی په وينا سيمه ايزو نېشليستانو د غربي بانك او د ګولان د لوړو په اړه هم غوښتني درلودې.

د فلسطين او اسرائيلو تر منځ ددې ستر بحران د له منځه وړلو لپاره نو اوس د پلانونو ورکول پيل سول، Yigul Alonخپله يوه طرحه چي د Alon Plan پلان په نامه ياده سوه وړاندي کړه، دې طرحي پر اسرائيلو ږغ کاوه چي د غربي بانك سره پرتې خپلي سيمي دي و فلسطين ته وسپارل سي.

ددې پلان برسېره په سيمه کي پرتو ځينو يهودانو هم په مخامخ ډول ددواړو خواوو ناسته او د موضوع حل حتمي ګاڼه. څکه نو د سودان پلازمېني خرطوم سر مشريزه چي يو غولونکی پلان وو، د 1967 کال په اګست او سپتمبر کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه شوه، چي دا سرمشريزي ددواړو خواوو تر منځ د خبرو اترو ور وتړی، او په هيڅ ډول ئې د اسرائيلو په رسميت نه پيژندل نه منل.

يوه بله معاهده هم په 1975 کال کي د ملگرو ملتونو لخوا خپره سوه، چي د Zionism is Racism يا صهيونيت نژادي تبعيض دی، په نامه ياده سوه، دې معاهدې پر اسرائيلو ږغ کاوه چي له خپلي سيمي دي هغه بنياد گراياڼ چي د مېشته کېدني مخالفت کوي و شړي.

په اسرائيلو کي په 1977 کال کي د Licud ليکود گوند په واك ته رسېدو سره د مېشته کيدني پراختيا رسمي بڼه غوره کړه، او اسرائيلو له هغه مهاله بيا تر همدې پاڼي تر ليکلو په فلسطيني سيمو کي د يهودانو پر مېشتېدو ټينگار کوي، يوازي په 2003 يم کال کي 22000 تنه اسرائيلياڼ په غربي بانك او غزې تراډه کي ځای پر ځای سويدي. او شل زره تنه نور ئې د بيت المقدس او د هغه په شاوخوا سيمو کي مېشت سويدي، او تر پنځلس زره زياټ يهود د گولان په لوړو کي مېشت سويدي.

مصري ولس مشر جمال ناصر د اسرائيلو او مصر تر منځ اوربند مات او پر سويز کانال ئې بريد و کړ، دې جگړې په يوه داسي مهال کي صورت و نياوه چي د اسرائيلو لومړی وزير Levi Eshkol مړ، او Gulda Meir گولدا مير يې د ځای ناستي په توگه ټاکل سوی وو، دا جگړه هم د دواړو هيوادونو تر منځ د يوې خونړۍ جگړې په توگه ثبت سوېده، ډير څېړونکي په دې اند دي چي په همدې جگړه کي د بم غورځونکو الوتکو پيلوټاڼ شوروي الاصله وو، چي د شوروي اتحاد له لوري و جمال عبدالناصر ته رالېږل سوي وو.

د متحدو اېالاتو دفشار له امله چي پر اسرائيلو ئې وارد کړ، دواړه لوري و يوه اوربند ته سره و رسېدل، او هم ئې و منله چي د ملگرو ملتونو 242 نمبر معاهدې ته غاړه ايږدي.

د عربي نړۍ يوه نامتو او ننگيالی مشر جما ل ناصر هم په ناڅاپي ډول له دې نړۍ سترگي پټي کړې، او ځای ناستي انور سادات اوس د مصر مشري په غاړه واخيسته، د انور سادات تگلاره د اسرائيلو په اړه داسي وه چي له دوی سره ئې نسبي سوله غوښته، او په تدريجي ډول ئې د فلسطيني سيمو څخه د اسرائيلو وتل غوښتل.

متحدو اېالاتو او ملگرو ملتونو د اسرائيلو د لومړي وزير Levi Eshkol تر منځ منځگړيتوب کاوه، خو مثبته پايله ئې و نه درلوده.

د مصر د ولس مشر انور سادات غوښتني ورو ورو د جگړې د پيل کېدو په اخطار تبديلېدلې، خو د اسرائيلو سرسخت صدراعظم گولدامير هيڅکله دا نه منله چي د اسرائيلو پوځياڼ به د فلسطيني ښارو څخه وزي.بلکي هغه به ويل چي د فلسطين او اسرائيلو تر منځ د سولي ددايمي تړون تر لاسليکېدو وروسته به اسرائيلي ټولگۍ له فلسطينه راباسي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرب هیوادونو او پخپله مصر و مصري ولس مشر ته په ډاګه کوله چي اسرائیل په پوځي لحاظ تر مصر تکړه دي، تر هغه مهاله چي مصر پخپل اردو کي اصلاحات را نه ولي، جګړه به ونه ګټي، نو انور سادات هم غوره و ګڼله چي جګړه د عرب مشرانو تر لیدني کتني پوري و ځنډوي.

د اکتوبر جګړه Yom Kippur War:

تر یو لړ زیاتو ناندریو وروسته د 1973 کال د اکتوبر په مپاشت کي مصر او سورئي د اسرائیلو پر ضد یوه بله جګړه ونښلوله، او دا جګړه د اسرائیلي لومړي وزیر ګولدامیر لخوا د انور سادات د هغه وړاندیز تر ردولو وروسته پیل سوه چي د مهاجرت په اړه ئي د مذاکرې غوښتنه څرګندوله.

د اکتوبر پر شپږمه چي یهودان ئي Yom Kippur بولي، او ددوی لپاره یوه ځانګړې سپېڅلي ورځ ده، مصري پوځي ټولګۍ له سویس کانالہ تېري سوي، که څه هم پخوا لدې انورسادات دوه ځله د جګړي د پیل په اړه خبرداې ور کړی وو، خو څه پېښ نه سول، ځکه نو اسرائیلي مشرتابه هم د مصري برید په اړه ګمان نه کاوه، خو د برید په ورځ رارسېدلي استخباراتي خبرونو ګولدامیر او د اسرائیلو ددفاع وزیر داپان Dayanحیران کړل.

زیات شمېر مصریان د سویس کانال پر شاوخوا راټول شوي وو، اسرائیلي ځواکونه هم سره راټول او یو ځای سوه، تر څو د راپېښ اړودوړ مخه و نیسي، خو خبر نه وو چي ټانکونه او زیاتي درنې وسلې ئي تر مخه لا د مصري پوځیانو په لاس کښېوتلي دي.

د اسرائیلو سره په جګړه کي د زیات فشار له امله 200 اسرائیلي ټانکونو د ګولان لوړي پرېښودې، او پر شاتګ ئي و کړ، کله چي مصریان له سویس کاناله تېر سول، نو سورېي هم د پینینسولا تراډه چي له لاسه ئي ورکړې وه، بیرته په لاس راوړه.

د اسرائیلو یو جنرال اپریل شېرون چي د اسرائیلو اوسنی لومړی وزیر دی، په همدې جګړه کي یو مهم رول لوبولی وو.

جګړه د متحدو اېالاتو د زیات فشار له امله ودرېده، د جګړې په پای کي معلومه سوه چي دواړو خواوو ته زیات ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي، د مصر د مړو شمېر 8500 تنه او د اسرائیلو هغې 2500تنه و ښودل سو.

د جګړې په پای کي د اسرائیلو لومړی وزیر ګولدامیر و استعفاکولو ته مجبور سو، چي له استعفا ورکولو وروسته ئي Izhak Rabinاسحاق رابین، چي په متحدو اېالاتو کي د اسرائیلود سفیر هم تېر سوی وو، د لومړي وزارت په ګدۍ کښېناست.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متحدو اېالاتو د باندنیو چارو د وزیر له هڅو سره سم و منل سوه چي اسرائیل به د سینای پینینسولا د ځینو برخو څخه وزي، خو د اسرائیلو د ښی اړخه اپوزیسیون مشر Menhaem Begin له سینای پینینسولا څخه د اسرائیلي پوځېانو د وتلو سخت مخالف کاوه، که څه هم چي انورسادات او د اسرائیلو لومړی وزیر Menahem Beiginپه 1978کال کي د Camp David تړون لاسلیك کړ، چي په 1979 کال کي ئې د سولي د تړون لپاره لار هواروله.

## په لبنان کي د 1982 کال جګړه:

په 1970یم کال کي د فلسطین د خپلواکۍ سازمان غړي او جنګیالي و لبنان ته راغلل، او لبنان ئې خپل مرکز و ګرځاوه، تر څو له هماغه ځایه پر اسرائیلي سیمو خپل بریدونه تر سره کړي، سوریایان د 1976 کا ل په لومړیو کي و لبنان ته داخل سوي وو.

خو د اسرائیلو لومړي وزیر د فلسطین د خپلواکۍ سازمان پر همدي عمل خبر او په 1982 کي ئې پرې حمله و کړه، څو له هغه ځایه د فلسطین د خپلواکۍ سازمان جنګیالي و تونیس ته ولاړل.

دا هڅه د اسرائیلو ددفاع د وزیر اپریل شېرون وه چي غوښتل ئې د فلسطین د خپلواکۍ سازمان له منځه یوسي، په لبنان کي تر ډېره وخته د اسرائیلو او فلسطیني سازمان تر منځ جګړه روانه وه، خو په وروستیو کي اسرائیلو له لبنانه خپله پښه و ایسته، خو له وتلو سره سم ئې د اسرائیلو پر ضد د حزب الله ډله جوړه سوه.

## لومړی انتفاده او اوسلو تړون:

کله چي د فلسطین د خپلواکۍ سازمان لږ ضعیف کړل سو نو فلسطینیانو کوښښ کاوه څو په نیول سوو سیمو کي خپل سرنوشت او واك چاري پخپلو لاسونو کي واخلي.

د 1978کال په لومړیو کي په غربي بانك او غزه تراړه کي د اسرائیلي ظلمونو په وړاندي ستر پاڅون وسو، چي د انتفادي په نامه و نومول سو، د خلیج تر جګړي وروسته او د شوروي اتحاد تر ټوټه کېدو وروسته د متحدو اېالاتو او نړیوالي ټولني پام منځني ختیځ او په تیره بیا د فلسطین او اسرائیلو تر منځ سولي ته راواوښت.

په 1993 او 1995 مو کلونو کي د فلسطین د خپلواکۍ سازمان او اسرائیلو د اوسلو اعلامیه یا Oslo Declaration of Principlesاو د اوسلو لنډمهاله تړون یاThe Oslo Interim Agreement لاسلیك کړ، او همدا ډول په ۱۹۹۴کال کي د اسرائیلو او اردون تر منځ هم د سولي تړون لاسلیك سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د P.L.O او اسرائیلو تر منځ په اعلامیه کې راغلي وو چې د 1996کال له مخه به اسرائیل د غزې له تراډې او غربي بانك له ډیرو ښارو راوزي. د 1996م کال په رارسېدو سره چې اسرائیل له همدې سیمو راووتلل.

تقریبا 97%په سلو کې فلسطینېان چې په همدې سیمو کې اوسېدل، تش په نامه تر فلسطیني قانون لاندې وو. خو هغه ساحه چې د فلسطین ملي واکمنۍ یا Palestine National Authority اداره کول، په ټولیز ډول 8%په سلو کې وو.

د 1996کال د جنوري په مېاشت کې په غزه او غربي بانك کې مېشتو فلسطینېانو یوه مقننه قوه و ټاکل،چې یاسرعرفات ئې د فلسطین د مشر یا رئیس په توګه و ټاکه.

د فلسطیني دولت مشر سپین ږیری یاسر عرفات چې د ژوندانه په هره شېبه کې ئې له فلسطیني حقوقو دفاع کړې او د اسرائیلي ځواك په وړاندې د سپر په شان ولاړ دی.

دوهمه انتفاده:

د مېشته کېدني په اړه د فلسطین او اسرائیلو تر منځ خبري اترې د 2000م کال په جولای کې پای ته ورسېدې، فلسطینېانو ټینګار کاوه چې اسرائیل دې هغه کډوالو ته چې و اسرائیلي سیمو ته راستنېدل غواړي، اجازه ورکړي، او په دې کار کې د فلسطینېانو موخه دا وه چې په اسرائیلو کې د فلسطېنېانو ټولني جوړې کړي، خو اسرائیلو ددې کار مخالفت کاوه، او هم ئې په څو مهمو فلسطیني سیمو خپل کنترول غوښت

د فلسطېنېانو پاڅون د 2000م کال د سپتمبر په 28مه هله زور واخیست چې اسرائیلي وزیر ایرېل شېرون په بیت المقدس کې د مسجد اقصی څخه لیدنه کوله. د فلسطیني وګړو دا دوهم ستر پاڅون هم د اسرائیلو ځواکونو له خوا د فلسطینېانو د کورونو د نړولو او پر هغو د ظلمونو په نتیجه کې سر را پورته کړې، چې ددوهمې انتفادې په نامه و نومول سو.

د فلسطین او اسرائیلو تر منځ د سولې راوستلو په بهیر کې د تابا یاTabal پنامه خبري اترې هم و سوې، او په دې خبرو اترو کې فلسطېنېانو د متحدو اېالاتو د ولس مشر بیل کلنتن هغه پلان چې د مېشته کیدني لپاره جوړ سوی وو، رد کړ.

تر دې مذاکراتو وروسته اسرائیلي لومړی وزیر یهود بارك چې د همدې پلان په پروسه کې ئې مهم رول درلود، په اسرائیلي ټولټاکنو کې ماته و خوړه او پر ځای ئې اوسنی لومړی وزیر اېریل شېرون و ټاکل سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متحده اېالاتو د زېاتو هڅو سره سره چي غوښتل ئې دوهمه انتفاده ارامه کړي، دا انتفاده تر 2002کال پوري راوانه وه.

د 2001 کال د سپتمبر يولسمي، د فلسطين او اسرائيلو تر منځ تاو تريخوالى لا زېات کړ، عرب هيوادونو غوښتل په ټوليز ډول د فلسطينيانو دفاع و کړي، خو له بل لوري متحدو اېالاتو په لبنان کي د حزب الله او په فلسطين کي د حماس مذهبي ډول فعاليتونه تر خپلي پوره څارني لاندي راوستلي وو، هغې مظاهرې چي د القاعده ډلي د مشر اسامه بن لادن په پلوي جوړه سوې وه، د فلسطيني مذهبي ډلو پر سياست ښېله اغېزه وکړه.

اسرائيلو د 2003کا ل د جنوري په دريمه په وسلو بار هغه بېړۍ چي و فلسطين ته پر لاره وه، و نيول او شواهدو وروسته څرګنده کړې وه چي نوموړې کښتي د ايراني دولت لخوا و حزب الله ته لېږل کېده.

همدې پېښو ته په کتنه، متحدو اېالاتو او اروپائي ټولني و اسرائيلو ته واك ورکاوه، چي د فلسطين دولت پر ضد اقدامات و کړي. اسرائيلو هم دا ډول اقدامات پيل کړي او بې ګناه فلسطينيان ئې سخت و ځپل، پر فلسطيني سيمو ئې يرغلونه و کړل او د فلسطيني دولت مشر ياسر عرفات ئې پر خپل هستوګنځيRamalah کي نظر بند کړ، خو د اسرائيلو دې بې رحمانه اعمالو کله د فلسطينيانو سپېڅلې عقيده او خپلواکي غوښتونکي روحيه اړولاسواى، فلسطينيانو هم له خپلو بريدونو لاس وانه خيست او ځان مرګي بريدونه ئې تر سره کړل.

د سعودي د سولي تړون او د فلسطيني دولت د رسميت پېژندني معاهده:

د سعودي ملك شهزاده عبدالله هم د فلسطين او اسرائيلو د اوږدمهاله ناورين د پاى ته رسولو لپاره يو وړانديز چي Saudi Peace Proposalنوميږي، وړاندي کړى دى، دا طرحه د فلسطيني سيمو څخه د اسرائيلو د وتلو اوهم د مهاجرت پر سر موضوعاتو متمرکزدى، او د عرب سرمشريزي ياArab League تر غونډې وروسته منل سوى دى.

د 2002کال د مارچ پر دولسمه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا 1397نمبر معاهده صادره کړه، چي يو ځل بيا ئې له دواړو خواو څخه د بريدونو پاى ته رسول غوښتل، دې معاهدې هم د ملك عبدالله د پلان يادونه کړې او په لومړي ځل ئې د فلسطين دولت د جوړېدو ژمنه کړې وه.

## د فاعي دېوال يا:Operation Defence Wall

پداسي حال کي چي په اسرائيلي سيمو کي ځانمرګو بريدونو خپل اوج ته ځان رساوه، ياسر عرفات پر فلسطينيانو ږغ وکړ چي له دې ډول ځان مرګو بريدونو څخه دې مخ و ګرځوي.

منځني ختيځ ته يو ځل بيا د جنرال زيني په راتګ سره دې ډول بريدونو زور واخيست، Nethanyas د پارك په هوټل کي يوه ځان مرګي بريد چي د يوې ښځي لخوا تر سره سو، 27تنه اسرائيليان ووژل. اسرائيلي حکومت هم ددې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برید په ځواب کي پر فلسطیني سیمو برید وکړ، په رام الله، نبلس، جنین او تولکرم ښارونو کي ئې ډېري بې رحمانه وژني وکړې، ښوونځی او دولتي تاسیسات ئې وران او د عامه خلکو ډېر کورونه وران کړل، په سلګونوتنه بې ګناه ښارېان ئې په شهادت و رسول، د بریدونو پر مهال د اسرائیلو یوه ویاند ویلي وو چي یوازي یې په جنین ښار کي 50تنه فلسطیني جنرالان په شهادت رسولي دي.

اسرائیلي پوځېانو د الفتح سازمان مشر Marwan Barghouti ژوندی په لاس غوښت چي ددوی له نظره ئې په ډېرو ترهګرو پېښو کي لاس درلود.

د اسرائیلي پوځېانو دا بریدونه چي د دفاعي دېوال پنامه یادسوي دي، دوی ته دا په ډاګه کړه چي په وسله وال ډول به دي پېښو او ناورین ته پای ورنه کړي، بلکي لا به د سولي پروسه و پای ته و غورځوي.

په عربي نړۍ اومسلمانو هیوادو کي تر زیاته حده اسرائیلي ظلمونه غندل کیږي، د اپریل پر 19 مه د امنیت شورا 1405نمبر معاهده صادره کړه او پخپله دي معاهده کي ئې د یوې پلاوي ټاکل غوښتل چي د فلسطین او اسرائیلو تر منځ ددې ناتار په حقیقت ځان و پوهوي، اسرائیلو لومړی دا معاهده و منل خو راوروسته ئې د همدې پلاوي پر جوړښت او تګلاره نیوکي و کړې او هغه ئې رد کړل.

د امریکا اوسني ولس مشر جورج واکر بوش ددې لپاره چي پر عراق د برید پر ضد د مسلماني نړۍ پاځون راپورته نشي، و غوښتل د فلسطین او او اسرائیلو ترمنځ په دراماتیك او بېړني ډول سوله رامنځته کړي، د همدې سولي لپاره ئې د 2002کال د مې په مباشت کي اسرائیلي لومړی وزیر اپریل شېرون سپیني ماڼۍته و غوښت، تر څو د منځني ختیځ په اړه ورسره وږغیږي، ددوی د غونډې پر مهال خبر راورسېد چي د حماس مذهبي ډلي په اسرائیلو کي یوه لویه چاودنه سر ته رسولي ده، شېرون هم د خبر تر اورېدو وروسته د خپل هیواد په لور ستون سو او دا خبري همداسي بې پایلې پاته سوې.

د مې په مباشت کي پر فلسطیني مشر یاسرعرفات هم فشار زیات وو، څو هغه ئې ددې مباشتي په پای کي د Basic Lawیا انتقالي اداري اساسي قانون توشېح کولو ته و هڅاوه. د فلسطین لپاره دا اساسي قانون د اسلامي قانون یا شریعت پر اصولو ولاړ دی.

د 2002کال د اګست مباشت ته په کتنه، دا مباشت په ځانګړي ډول د فلسطین او اسرائیلو تر منځ د تاوتریخوالي مباشت وه. په اسرائیلي سیمو کي فلسطینېانو مرګوني بریدونه سر ته رسول، او په ځوابیه عملیاتو کي ئې اسرائیلو پر فلسطینېانو له ځمکي نه ځمکي ته توغندۍ توغولې.

په همداسي یوه پېښه کي اسرائیلو په فلسطین کي د حماس د مذهبي ډلي مشر Salih Shehadeh هم په شهادت و رساوه، چي تر شهادت وروسته ئېMuhammad Deif و ټاکل سو.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**